بېشکه دين اسان دی او هېڅوک دا دين نه سختوي مګر دا چې دين به پرې برلاسی شي، نو منځلاري اوسئ (له افراط او تفريط نه ځان وساتئ) او که عمل مو پوره نه شو ادا کولی نو پوره والي ته يې ورنږدې کړئ

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: "بېشکه دين اسان دی او هېڅوک دا دين نه سختوي مګر دا چې دين به پرې برلاسی شي، نو منځلاري اوسئ (له افراط او تفريط نه ځان وساتئ) او که عمل مو پوره نه شو ادا کولی نو پوره والي ته يې ورنږدې کړئ، او (خلکو ته) زيری ورکړئ، او په سهار او ماسپښين او د شپې په يوې برخې سره مرسته وغواړئ (پدې دريو وختونو کې عبادت وکړئ)".

[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم څرګنده کړه چې د اسلام دين په ټولو چارو کې د آسانتيا او سهولت پر بنسټ ولاړ دی او د ناتوانۍ او اړتيا پر مهال پکې پر آسانۍ ډېر تاکيد کيږي، او ځکه چې په ديني چارو کې د ژور تللو او له مهربانۍ څخه د کار نه اخېستلو سزا ناتواني او د نومورې عمل مکمله او يا يوه برخه پرېښودل دي. بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم له مبالغې پرته پر منځمهالتوب ټينګار وکړ؛ نو بنده به په هغه څه کې نېمګړتيا نه کوي چې امر ورته پرې شوی دی او هغه کار به نه کوي چې وس يې نه لري، که چېرته لدې عاجز و چې ټول عمل په بشپړه توګه تر سره کړي؛ نو بشپړتيا ته دې ورنږدې کړي. او رسول الله صلی الله عليه وسلم د بشپړ عمل څخه د ناتوانه انسان لپاره پر دوامداره عمل که څه هم لږ وي د ډېر ثواب زيری ورکړی دی؛ ځکه چې ناتواني د هغه کړنه نده، نو ځکه يې له املې اجر نه کميږي. او څرنګه چې دا نړۍ په حقيقت کې د سفر او اخروي ژوند ته د ليږد ځای دی، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم امر وکړ چې د دوامداره عبادت لپاره دې پدې دريو وختونو هڅه وشي چې د عبادت لپاره ډېر فعال وختونه دي. لومړی: سهار: د ورځې په پيل کې په مزل کولو سره؛ د سهار د لمانځه او لمر راختلو تر منځ. دويم: الروحة: له غرمې وروسته په وخت تېرولو سره. دريم: الدُّلْجة: د شپې د يوې برخې او يا ټولې شپې په تېرولو سره، او ځکه چې د شپې کار کول د ورځې له کار څخه سخت وي، نو د کار په يوې برخې يې امر وکړ او ويې فرمايل چې: الدلجه: يعنې د شپې يوه برخه.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5795